# نړیوال بانک

اړیکی: په کابل کی: عبدالرؤف ضیا 009370280800

بریښنا لیک : azia@worldbank.org

په واشنګټن کی: کرینا منحسي 1729-473 (202)

بریښګنا لیک: kmanasseh@worldbank.org

خبری خپرونه نمبر:2005/424/SAR

**د دولت او مرستندویو هیوادونو استازو د افغانستان په پرمختیایي غونډه کې په پرمختیا یي لمړیتوبونو او بنسټیز خنډونو باندې خبرې اترې وکړې**

*د مرستندویو هیوادونو دکنفرانس هدف دا دی چې د افغانستان د بیا رغونې زیارونه لاپسې ګړندي شي*

**کابل، د ۲۰۰۵ ام میلادي کال د اپریل د میاشتې ۴مه نیټه –** د افغانستان لمړني پرمختیا یي غونډه چې د افغانستان د نوي حکومت له خوا ترسره شوه نن په کابل کې پای ته ورسیده. د تیرکال بریالۍ غونډې پر بنسټ، د سږني کال غونډه په دغې موضوع پیل شوه چې سرلیک یې دا دی: د افغانستان پرمختیا ته ګړندیتوب ورکول. د افغانستان اقتصاد په تیرو دریوکلونو کې د کرهنیزه داخلی محصولا تو له لیارې ډیر زیات پرمختلې کړی دی، چې د اقتصاد دغه اندازه په سلو کې ۵۰ برخې زیاتوالی ښیي. د کرهنیزه داخلی محصولاتو ټول ارزښت په ۲۰۰۳/۰۴میلادي کال کې (پرته د تریاکو در ارزښت څخه چې ۳.۲ بلیونه امریکایي دالره کیږي) تر ۴.۶ بلیونه امریکایي دالرو پورې ورسید. کله چې په دغه هیواد کې جګړه پای ته ورسیده او د هیواد کرهنه د۱۹۹۰ کال نه را په دې خوا د اوږدې وچکالی څخه وژغورل شوه، نو د بیا روغونې دپیل سره دا لمړی ځل دی چې د هیواد اقتصاد وده مومي. د بشر د پرمختیا وروستی راپور خرګندوی چې د افغانستان ټولنیز شاخصونه ښیي چې د هر افغان کلنی عاید ۲۰۰ امریکایي دالره دی، چې دغه رقم په نړۍ کې د عایداتو ډیر کښته سطحه ده.

دغه راپور چې سرلیک یې دی د افغانستان پرمختیا ته ګړندیتوب ورکول – غواړي چې د افغانستان حکومت داسې یو دیالوګ رامنځ ته کړي چې د هغه په ترڅ کې د نړیواله ټولنې او د افغانستان د حکومت ترمنځ بربنډه او دوستانه خبرې اترې تر سره شي. دغه راپور په دغې موضوع باندې چورلیږي چې حکومت د نړیوالې ټولنې په مرسته خرنګه کولای شي چې د بنسټیزو جوړښتونو پرمختیا ګړندی کړي، منسجم ټولنیز سیاست ډاډه کړي، د خصوصی سکتورونو د پرمختیا لپاره مناسب چاپیریال رامنځ ته کړي، مالی سیستمونه اصلاح کړي، عامه اداری اصلاحات تامین کړي، سیمه ایزه همکاری پیاوړې کړي، قوانین تطبیق کړې او د مخدره مواد و په مقابل کې د مبارزې لپاره نورې لارې چارې رامنځ ته کړي.

*ښاغلي پرافول پاتیل ، د جنوبي آسیا د سیمی لپاره د نړیوال بانک د رئیس مرستیال وویل : په تیرو دریو کلونو کې افغانستان د بیاودانولو اوپرمختیا پروګرام پیل کړی او نړیواله ټولنې ته یې قناعت ورکړی – که څه هم دا یو ډیر وتلی کار نه دی – خو دغه پروګرام به خاماخا پرمختلې وکړي. د حکومت ستراتیژیکی پلان نړیواله ټولنه دې ته هڅولې ده چې په ډیره لوړه کچه د دغه هیواد سره مرسته وکړي. نړیوال بانک ژمن دی چې د افغانستان لپاره به اوږد مهاله مرسته وکړي او د هیواد هغو لمړیتوبونو سره مرسته وشي چې دا به پخپله د ملی ستراتیژی د پرمختیا لپاره لاره اواره کړي.*

ښاغلي پاتل په دې ټکې زور واچوو که چیرته افغانستان د خپل د بیاودانولو اوپرمختیا هدفونه ترلاسه کړي، نو د اقتصاد وده ضروروی بریښي – خو دا خبره مهمه ده چې دغه وده باید ډیره پراخ بنسټه وي، بیوزلي خلک د بیوزلی څخه وژغورل شي او د کلیوالو او ښاري خلکو اړتیاوې پوره شي. د افغانستان اقتصاد په پراخه پیمانه په کرهنه باندې ولاړ دی، نو له همدې امله نړیواله ټولنه باید ډیر زیات دغه ټکي ته پاملرنه وکړي. په دغه لړ کې لا د پخوا څخه پرمختلې شوی او په هیوادکې کلیوالی پرمختیایی پروګرامونه پلي کیږي،لکه د ملي یوالي پروګرام، د کوچنیو پورونو د ورکړې پروګرام او داسې نور. برسیره پردې، دا خبره ضروري ده چې د افغانستان پرمختیا په سیمه ایزه کچه جوته شي – د ګاوندیو هیوادونو سره په دغه لاندنیو مسئلوباندې موافقه د افغانستان د پرمختیا لپاره ډیر مهم عامل دي، لکه ګمرک، د ترانزیت سوداګری، انرژی، د اوبو سرچینې، د کارکوونکو کډوالی، امنیت او داسې نور.

همدارنګه ، د کاري ظرفیت د ودې په خنډونو باندې خبرې اترې وشوې. په دغه لړ کې لاس ته راوړنې غوڅ اهمیت لري خو دغه مسئله یوه اوږد مهاله ستونزه ده او کولای شي چې عامه او خصوصی موسسې تر اغیزې لاندې راولی. نړیوال بانک به د افغانستان د ملکی خدمتونو او عامه اداري په اصلاح کولو کې مرسته وکړي. نړیوال بانک مینه وال دی چې د حکومت سره مرسته وکړی تر څو وزارتونو او عامه خدمتګارانو ته مناسبه واکمني وټاکي. د اغیزناکه او اقتصادي خدمتونو په هکله چې د حکومت تر څارنې لاندې د غیر دولتی موسسو له خوابرابر شول ارزښتناکه لوستونه ترلاسه شول، د دغه خدمتونو بیلګه په روغتیایی سکتور کې لیدل کیږي. لازمه ده چې دغه لوستونو لاپسې ښه تنظیم شي تر څو د غیر دولتي موسسو په شفافیت کې مرسته وکړي او مناسب مقررات رامنځ ته کړي تر څو د هغه په لړ کې خصوصی سکتورونه پلي شي.

په دغه درې ورځینی غونډه کې، د افغانستان حکومت د افغانستان د بیا رغونې صندوق ته کره کتنه وکړه. تر اوسه پورې دغه صندوق ته د ۲٤ مرستندویو هیوادونو له خواد ۱.۱۸ بلیونو امریکایي دالرو څخه زیاته ژمنه شوې ده چې د حکومت د بودجې او لمړی پانګه اچونې سره به مرسته وکړي. ARTF به د منجمنت د کمیټې تر څارنې لاندې د نړیوال بانک له خوا تطبیق شي چې په دې کې د آسیا پرمختیایي بانک، اسلامي پرمختیایی بانک او د ملګروملتونو پرمختیایی پروګرام هم شامل دی.

شاغلي پاتل ADF ته وویل، د مرستندویو هیوادو نو ګډ صندوق د مرستندویو هیوادو په هم غږی او د حکومت پروګرامونو ته د مرستو په برابرولو کې یو مهم رول لوبوي. همدارنګه ، دغه صندوق د حکومت لمړیتوبونو ته لکه چې د دغه هیواد په ستراتیژی کې یې یادونه شوې ده حیاتی میکانیزم برابروي.

ښاغلی پاتل دغه خبر بیا یاده کړه چې نړیوال بانک د افغانستان په څنګ کې د اوږدې مودې لپاره ولاړ دی ترڅو چې حکومت وکړای شي د بیوزلی لمنه ټوله او ستراتیژیکی پروګرامونو ته وده ورکړي. تر اوسه پورې نړیوال بانک د۷۸۰ ملیونو امریکایې دالرو څخه زیات د بیلابیلو خدمتونو لپاره برابرې کړې دي، لکه روغتیا، ښوونه او روزنه ، د کلیو سړکونه، او د کلیو پراختیا او داسې نور.

په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د دغې پتی سره تماس ونیسئ

www.worldbank.org/af

دARTF په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د دغې پتی سره تماس ونیسئ

www.worldbank.org/artf